مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفو لېوال
۲۰۱۹/۱۲/۱۳

# ښار



ښار،
لکه تبې نیولی بوډا،
چې له هر څګېروي سره
د خپلو ورستو هډوکو ټکهار اوري،
په سوچ کې ځانګي.
ښار، خوب نه لري
بس یوازې
د ویرې، اندېښنو او هیلو په ګڼه ګونه کې
ایره نی ویښتیا ته ډوب ناست دی.
ښار د خپل مرګ د بې فیلټره سیګرېټ لوګیو نشه کړی دی،
په سر یې درد دی.
ښار د خپلو پیغلو لونو د مخ ښکلا په سکرو لړلې ده
ویرېږي، چې څوک یې عزت ونه لوټي.
ښار د سیمپنټو شناختي،
لکه له زنګه وراسته شوي پاولي
څه بې شرنګا، څه بې سروده، پر لمن زنګوي.
اخ،
هغه ژوندی، هغه له مینې او له تندې ډک ښار
څومره بېوسه ، بې سروره پروت دی
پر دیوالونو یې انځورې څېرې
هر لاروي ته د سوالګرو په شان
په څیر څیر ګوري او له خدایه څنې
د خپل جلاد بشر لپاره یوه سپینه سکه
په ننواتو غواړي.
**د خېرن شرم ملکه چېرته ده؟**
هلې خبره یې کړئ!
چې ته سینګار کوې، نو دا کاروان به هم تالا وي...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنېزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ